


### د ځينو مهمو لغاتونو پيژندل

ځيني کسان د داسي لغاتونو تر منځ فرق نه سي کولای او يا خو يې پېژني هم نه، نو دا مي غوره وګڼل چي دا لغاتونه بايد په صحي تعريفونو سره وپېژندل سي..

۱- شريعت څه ته وايي؟
شريعت په لغت کي ځان پر دين برابرولو ته وايي او په اصطلاح کي د اسلام مبارک دين ټولو احکامو منلو ته شريعت ويل کيږي

۲- ريا څه ته وايي؟
ريا هغه ناوړه عمل ته وايي چی د بل په نظر کي ورکول چي يعني زه بزرګ او يا هم عابد يم

۳- تواضع او عاجزي څه ته وايي؟
تواضع په زړه کي د الله ﷻ څخه وېرې ته وايي، عاجزي او تواضع دواړه په معناوو کي يو شان دي، مګر په حروفو کي فرق لري

۴- خشوع څه ته وايي؟
خشوع هم د عاجزی په معنا ده

۵ - تقوا څه ته وايي؟
د الله ﷻ څخه وېره کول په جواريحو(لاسونه، پښې، خوله، سترګي او عورت ساتلو سره) او به زړه کي د الله ﷻ څخه وېره کول

۶ - سخا څه ته وايې؟
خپل مال د اللهﷻ د رضا لپاره صدقه کولو ته وايې

۷ - ذکاوت څه ته وايې؟
ذکاوت په لغت کي د ځيرکتيا او تيز فهمۍ په معنا دئ او په اصطلاح کي د ذکاوت مختلف تعريفونه سوي دي، ځينو ارواپوهانو ذکاوت د اړوندو وړتياوو د مجموعي په توګه تعريف کړی دئ، ځينو نور ارواپوهان هغه عمومي استعداد ګڼي، د طب له نظره ذکاوت پوښتنو ته د ښه ځواب ورکولو له وړتيا څخه عبارت دئ او يا په چاپيريال کي د مؤثرو او نويو تعديلاتو يا بدلونونو د راوستلو وړتيا ته وايي، په نظامي علومو کي Intelligence کليمه په استخباراتي معلوماتو اطلاق کوي، خو په هره بڼه چي تعريف سي حتاً لاندي مفاهيم له ځانه سره بايد ولري: د يادولو ګړندۍ وړتيا، له نوو موقعيتونو سره انطباق، د پرېکنده استدلالونو کارول، د رياضياتو او کلامي مفاهيمو درک او د هغو فعاليتونو کارول چي دموجوده اړيکو د درک له پاره لازم وي

۸ - حاجت څه ته وايې؟
حاجت د ضرورت په معنا دي، يعني هغه څه چي موږ يې نه لرو او د هغه اميد لرو چي تر لاسه يې کړو

۹ - کبر او مغروري څه ته وايې؟
پر مسلمانانو باندي ځان لوړ بلل او مسلمانان تر ځان خوار بللو ته وايې، کبر او مغروري هم په يوه معنا دي، خو الفاظ يې فرق لري

۱۰ - خيال څه ته وايې؟
خپل مال پر ځان مصرفول او ښکاره کول او يا هم خلګو ته ښودل چي زه خو (مال و دولت او يا جايداد لرلو) ته وايې

۱۱ - عزم او قصد څه ته وايې؟
د يو کار لپاره اقدام کولو ته وايې(يعني يو کار ضروري بلل) او د هغه د سرته رسولو لپاره کلکې ارادې نيولو ته وايې

۱۲ - غفلت څه ته وايې؟
غفلت د بې هوښۍ په معنا دي(يعني په شيانو سر نه ګرځول) او د هغه څخه په غفلت کي لوېدلو ته وايې

۱۳ - پرهېز څه ته وايې؟
د منکراتو څخه ځان ساتلو ته وايې(يعني هغه څه چي الله او د هغه رسول منعه کړي وي، د هغو څخه ځان راګرځولو ته وايې)

۱۴ - بدعت څه ته وايې؟
په دين کي نوی کار کولو ته وايې، يا په دين کي د يو نوي شي رامنځته کولو ته وايې
او يا هم ځيني علماء يې داسي تعريفوي: په عباداتو کي د ځانه جوړې سوي طريقي ته بدعت وايې..

رسول اللهﷺ فرمايي: ټوله بدعتونه ګمراهي ده او د هرې ګمراهۍ ځای جهنم دي(رواه النسائي)
بل ځای فرمايي: که چا زموږ په دين کي نوی شی پيداکړ، هغه رد دي(رواه البخاري)
او بل ځای فرمايي: د بدعتي څخه الله تعالی نه لمونځ قبلوي، نه روژه قبلوي او نه صدقه قبلوي(رواه الترمذي)

امام مالک رحمه الله فرمايي: کوم څوک چي بدعت کوي په حقيقت کي دی رسول الله ﷺ ته د خيانت نسبت کوي
د بدعت اقسام

۱- په دین کي یو شی ور اضافه کول
۲- په دین کي چي الله تعالی او رسولﷺ کوم شي ته تعداد ایښئ وي هغه کمول یا زیاتول
۳- دشرعي الفاظو بدلول
۴- الله تعالی اورسولﷺ چي عبادت ته کوم وخت ټاکلی وي دهغه بدلول
۵- دعباداتوادواینه (کیفیت) بدلول

۱۵ - حسد څه ته وایې؟
یو څوک په خپل فکر بد بلل او د هغه سره ضد ساتلو ته وایې

۱۶ - دیانت څه ته وایې؟
دیانت د دین څخه اخیستل سوی دي، چي معنا یې د ځان عابد جوړولو په معنا دي(یعني ځان پر دین برابرولو ته وایې)

۱۷ - نعمت څه ته وایې؟
د الله ﷻ د لوري څخه ورکړل شوی شي ته نعمت وایې

۱۸ - عزت څه ته وایې؟
عزت د احترام او قدر په معنا دي(یعني د یو چا احترام کول او د هغه سره ښه چلند کولو ته وایې)

یادونه:
تاسي کولای سئ چي زموږ په زړه پوري لېکني، معلومات، غوره ویناوي، اسلامي کیسې، اسلامي ویډیوي او حدیثونه پر خپل وال، ګروپ، ایډیانو او د ټیلیګرام پر چېنل شیر کړئ.....مننه

تاسي کولای سئ چي همدغه معلومات د pdf په بڼه زموږ د ټیلیګرام پر چېنل تر لاسه کړئ، د نورو معلوماتو لپاره د هر ډول معلومات چېنل درسره join کړئ ⇩

http://t.me/hardolmalomat